پاچا

کالیفورنیا ـ امریکا، ۲۰۱۰/۰٤/۰۵م

# خدایه خیر کړی، حامد کرزی ځان ببر کړ!!!

یو متل دی چی وایی " خدایه دادا نر کړی چی ابۍ(مور) ووهی". د ولسمشر کرزی د پنجشنبی د ورځی، د اپریل د دوهمی نیټی ۲۰۱۰، وینا چی په کابل کی یی د ټولټاکنو مستقل کمیسون ته د افغانستان د تیر کال د اګست د میاشی په انتخاباتو کی د پیټر ګالبریټ چی یوامریکایی دی او د افغانستان لپاره یی په کابل کی د ملګرو ملتونوپه دفتر کی د مرستیال دنده لرله او هم د اروپایی اتحادیی د کمیسون د مشرجنرال فلیپ ماریو د لاس وهنو او ټګیو برګیو په باره کی د کمیسون ګډون کوونکو ته اوروله ډیر پټ رازونه ښکاره کړل. کرزی پخپله وینا کی وویل چی په دی ټولټاکنو کی ځینی خارجی سفارتونو، د اروپایی اتحادیی مشر جنرال ماریو او په ځانګړی ډول پیټر ګالبریټ په کابل کی د ملګرو ملتونو مرستیال د انتخاباتو د کمیسون ځیني غړي په مرګ تهدید کړي وو. کرزی وویل چی پیټر ګالبریټ د کمیسون د دارالانشا مشر نجفی ته ټیلیفون وکړ چی د انتخاباتو نتیجه اعلان نه کړی او که تاسو یی اعلان کړئ ددی معنی به دا وی چی تاسو پخپله خپل قبر کیندلی دی یعنی ښاغلی نجفی د پیټر ګالبریټ لخوا په مرګ تهدید کړی شو.

د کرزی وینا چی ټوله په حقایقو ولاړه وه، د امریکی د سپینی ماڼۍ او د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت د مامورینو د چټک غبرګون سره مخامخ او د ډیپلوماټیکونزاکتونو په خلاف د کرزی په مقابل کی په ډیرو سختو الفاظو سره و غندل شوه، د کرزی دغی وینا امریکایان لکه د وحشی مچیو(غومبسو) په شان راوپارول. یو متل دی چی وایی په سیاست کی ملګرتیا نشته. امریکا په ټوله نړۍ کی یو ملګری لری چی هغه اسرائیل دی. که اسرائیل د امریکا په مخ توکانۍ(لاړي) هم تو کړی بیا هم ورته هیڅ نه وایی چی البته دامریکا دا ملګرتیا یواځی د اسرائیلو په مقابل کی صدق کوی نه د بل کس او یا هیواد په باره کی. اسرائیل په ټوله نړۍ او په ځانګړی ډول په منځنی ختیځ کی یواځنی هیواد دی چی د امریکا د ګټو ساتنه کوی او د بی غیرتو او نامتحدو عربانو په سر لکه قصاب تبرګی په لاس ولاړ دی او هره ورځ په لسهاو بیګناه فلسطنیان وژنی خو دغه عربی هیوادونه د امریکا او اسرائیلو د مظالمو په مقابل کی چپه خوله دي.

اوس خبره داده که چیری ولسمشر کرزی دا خبري د احساساتو له مخی او یا هم خپل وجدان دیته مجبور کړی وی چی په انتخاباتو کی د بعضی خارجی هیوادونو لاسوهني په ډاګه اوروښانه کړی خو ډیره ښه خبره ده او که چیری یی د ایران د ولسمشر احمدی نژاد د ژمنو او وعدو په اساس کړی وي نو دا به د کرزی عمر ډیر زر را لنډ او لکه د مرحوم داود خان په شان به یی د مرګ کومی ته ور واچوی. که د نن نه تقریباً څلویښت کاله تیرتاریخ ته وګورو او د مرحوم داود خان د حکومت دوری ته ځغلند نظر واچو نو دابه راته روښانه شی چی د داود خان سره هم ځینو عربی، اروپایی او د هغه وخت د ایران شاه د اقتصادی مرستو وعدي کړي وي او دا هغه وخت وو کله چی مرحوم داود خان د هغه وخت د اتحاد شوروی په عزایمو او د افغانستان په کورنیو چارو کی په لاسوهنو پوه شو.

کله چی مرحوم داود خان په مسکو باندی شکمن شو نو عربی، اروپایی او د ایران هیوادونوته یی د مرستی او همکارۍ لاسونه وروغځول او ځینی هیوادونو ته پخپله ولاړ او ځینی نورو ته یی خپل لوړ پوړي مامورین ولیږل. داود خان خپل سفرونه په ۱۹۷۷ او ۷۸ کی سعودی عرب، مصر، متحده عرب امارات، کویټ، ایران او حتی پاکستان ته پیل کړل او ددغه سفرونو موخه یواځی او یواځی د اتحاد شوروی نه د خلاصون لپاره وه.

کله چی د شوروی اتحاد د کی- جی- بی- جاسوسی سازمان پوه چی داود خان غواړی د مسکو د شر نه ځان خلاص کړی نو د هغه د مرګ تیاری په مسکو کی پیل شوي چه په نتیجه کی یی د ثور منحوسه کودتا په لاره واچول شوه. مرحوم داود خان د افغان کمیونستانو له خوا د کی- جی- بی په اشاره په شهادت ورسول شو چی د ثور د منحوسی کودتا څخه نیولی تر اوسه پوری د افغانستان مظلوم اولس د مصیبتونو او کړاونو سره لاس او ګریوان دی.

د مارچ په میاشت کی د ایران ولسمشر احمدی نژاد کابل ته راغی او ورپسی ولسمشرحامد کرزی تهران ته په سفر ولاړ. د قراینو نه داسی معلومیږی چی حامد کرزی د جمعیت اسلامی او کریم خلیلی لخوا مجبور شوی وی چی ایران ته د مرستی غوښتنی په خاطر لاړ شی چی په دی کار سره د ولسمشر کرزی اعتبار د امریکا او اروپایی هیوادونو په مقابل کی راښکته کړی او جمعیت اسلامی او حزب وحدت د کریم خلیلی په مشرۍ ګوندونه په اصطلاح په یوه کاڼی دوه مرغۍ ښکار کړی. یعنی کرزی د امریکایانو په مقابل کی یو متمرد ولسمشر معرفی کړی او له بلی خوا د ایران نه نور امتیازات تر لاسه کړی.

جمعیت اسلامی د استاد ربانی په مشرۍ، د شورای نظار اوباشان اود کریم خلیلی د وحدت ګوندونه په ژبنی او مذهبی لحاظ د ایران دولت او روسي ته ژمني او تعهدونه کړيدي چی په افغانستان کی د پښتنو پر ضد خپل فعالیتونه زیات کړی او د ورونړو قومونو تر منځ اختلافاتو ته په هره وسیله چی کیږی لمن ووهی او ملی وحدت ته تاوان ورسوی. له بله طرفه ولسمشر کرزی په وار وار ویلی دي چی د طالبانو سره باید خبري وشي چی په افغانستانا کی سوله راشي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د طالبانو سره د سولی د مذاکراتو مخالفت نه یواځی پاکستان کوی بلکه روسیه او ایران هم ددغو خبرو په اړه خنډونه راپیدا کوی. د ایران دلیل دادی چی طالبان سنیان دي او ایران یو شیعه مذهبه هیواد دی او پاکستان خو مونږ ټولو ته معلوم دی چی د افغانستان د جهاد څخه را هیسی په افغانستان خپل سیاسی تجارت ته دوام ورکړی دی.
دا ښکاره خبره ده چی ډاکټر عبدالله د اروپایی اتحادیی د کمیسون مشرجنرال فلیپ ماریواو پیټر ګلبریټ ته د زمردو، الماسو او لاجوردو ډیر سوغاتونه ور ډالۍ کړي وو چی ددغه سوغاتونو په اساس دغه دواړو کسانو د ډاکټر عبدالله په حق کی د ټولټاکنو بهیر ناقصه اعلان کړ او د انتخاباتو د کمیسون مشرانو ته یی د مرګ ګواښونه وکړل.
ولسمشر کرزی باید په دی حساس وخت کی چی د پښتنو سره ټولی نړۍ رااخستی ده خپلو خبرو ته په ډیر دقت پام وکړی او امریکا او غربیانو ته داسی موقع ورنکړی چی د هغوي د جبروت لاندی را شی. ولسمشر کرزی باید د ملی خاینانواو جنایتکارانو په باره کی چی د وطن د مور سره یی خیانتونه کړی او د جنایتکارانو لخوا ډیری میندي بوري شوي، ډیری میرمني کونډي شوي او ډیر اولادونه یتیمان شویدی خپل جد و جهد ته دوام ورکړی چی ټول ملت ورڅخه خوشاله شي. ولسمشر کرزی باید په دی حساس وخت کی د امریکا او نورو اروپایی هیوادونو قهر او غضب ته لاره هواره نه کړی چی د هغه د مرګ سبب وګرځی او که داسی وشی نو قسیم فهیم به بیشکه د افغانستان مؤقتی جمهور رئیس شی چی دا به د روسي او ایران نه یواځی د خوشالۍ سبب وګرځی بلکه د هغوي لپاره به د مداخلی مستقیمه لاره پیدا شی. د لوی افغانستان په هیله.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه**: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ